نعمان دوست

۲۰۲۱/۱۰/۰۵

# د بابا موسکا

## (لنډه کیسه)

ماښام اذان ته درې څلور دقیقې پاتې وې چې د انګړ ور وټکېده. میرمنې په غېږ کې د پرتې ماشومې زبېښلې مخ ته وکتل. سترګې یې کولکونو کې ننوتلې وې. سینې عجیبه شغا کوله، ژر ژر یې نفس اخیسته. خیشت دسمال یې له ټنډې ور لرې کړ او بیا یې غږ کړ:

احمده! ور ټکیږي. ور شه. که بابا دې و، پیسې ترې واخله او په منډه د تبې شربت راوړه.

ماشوم ور پرانیست، بابا یې له یو ټایره کراچې سره ولاړ و. کراچې ته ور وخوت، پلتې یې ووهلې؛ خو ژر د مور خبره وریاده شوه. را توپ یې کړ او بیا یې ویل :

بابا!

د خورکۍ مې بیا تبه ده. پیسې راکه چې شربت اخلم .

بوډا همداسې غلی پاتې شو. دیوال ته تکیه ودرید. سترګې یې پټې کړې او د نن ورځې صحنه ور یاده شوه:

ټوله ورځ ورته یوازې یوه نفر د بار وړلو ویلي و او دی په خوشالۍ ورغلی و. بوډا د غوړیو پیپ کراچۍ ته پورته کړی و؛ خو چې څومره زور یې وهلی و، نو د وریژو  د درې نیم منۍ کڅوړې په پورته کولو نه و توانیدلی  .

ځوان په غوسه ورته ویلي و :

چې نه یې شې کولای کوم زلمی زوی دې راولیږه؛ هسې د خلکو وخت مه ضایع کوه!

د دې خبرې په اوریدو، پرې لړزه ګډه شوې وه. د کراچۍ چلولو وس یې هم بایللی و. هملته ځای په ځای ناست و. پر زنګنونو یې سر ایښی و او بیا یې د هماغې ورځې د صحنې فلم په مغز کې چالان شوی و:

د انګړ منځ کې تر ونې لاندې کټ کې پروت و. په یوه ښاخ کې د سیروم کڅوړه ځوړنده وه او نرۍ پایپ یې ننبتې ستنه د ده د لاس په رګ کې ښخه وه. سیروم لا نیمایي کې و چې بیرون کوڅه کې شور شو، مخ یې ور واړو، شور لوړیده او بیا په دروازه په وینو ککړ کټ راننوت. بوډا نیغ کیناست، ستن او ترې شاوخوا راتاو پلسترونه یې لرې ګوزار کړل. له کټه شکته شو، خو چې لا یې بل قدم اخیسته، نور په ځان نه و پوه شوی او یو وخت چې په هوښ راتللو؛ نو څو سطلونه پرې خالي شوي وو.

بوډا سر پورته کړ. له مخامخ جیبه یې دسمال راوویست او سترګې یې وچې کړې. چې خواته یې وکتل نو ځوان نه و او خپله سودا یې په بل چا وړې وه.

بوډا تر ډیره ښار کې د واټ پر سر ولاړ و. چې څوک به کوم دوکان ته هسې هم ورتاو شو، نو دی به یې کراچۍ سره مخې ته ولاړ و. یوه خو ورته په غوسه ویلي و: څومره شله انسان یې، په دې زاړه ځان د دنیا حرص پسې اخیستی یې!



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي.  په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

مازيګر لمر په پرېوتو و چي له خپلي تشي کراچۍ، خالي جيب؛ خو له شوره ډک سر،  سره مخ په کور روان شو .

ځان سره په خبرو لګيا و :

د کار وس نه لرم. څوک راباندي باور نکوي. دا وارہ لمسيان، دا ځوانه کونډه نږور... دا به څه کيږي. له چا پور وغواړم، هغه ورځ دي هېره شوه چي دکاندار درته ويل: ليونی خو نه يم چي بيا په قرض سودا درکړم، ستا لمسيان چي غټيږي او د ګټي وټي کيږي خدای خبر....

امممم، لمسيان به د نږدې جومات مخي ته کينوم، زه به ښار کي د کوم جومات مخي ته څادر وغوړوم... نه، نه.. دا کار مي نه دی کړ. که کوم خپلوان مي ووينې....

همدې فکرونو کي و چي د کور ور يي وټکاوه او د خپل لمسي له خبرې سره مخ شو: بابا، د خورکی مي بيا تبه ده. پيسي راکه. شربت اخلم...

زړه نا زړه انګړ ته ننوت. کراچې يي د ديوال خواته ودروله. د نږور غيږه کي پرتي بيمارې لمسی  ته يي وکتل او بيا نيغ په خونه ننوت.

د ګروپ رڼا ته يي ذره بيني ګردو عينکو کي د غني ځالي ته کتلي. مچ پکي نښتی و. بنګيده او د خلاصون هڅي يي کولي. اخر يي غږ ورک شو او ارام شو.

بيا يي له يوه دستکه را ځړيدلي د پړي حلقي ته کتلي. دې کي به يي د زانګو چنګک اچوه. همدې حلقي کي يي سترګي ښخي وې او په فکرونو کي ډوب شو:

دا به څه کيږي؟ پرون مي ايله د وچي ډوډۍ پيسي پوره کړې، نن هغه هم ونشوې. دا واړه لمسيان خو به ولږه رانه واخلي، دا ناروغه او بې درملو لمسۍ، دا ځوانه نږور ....

يو دم يي بيا حلقي ته وکتل. کټ کي نيغ کيناست. راښکته شو. ور يي بند کړ. خونه کي يي ورو ورو قدم واهه :

کيدای شي له مرګ وروسته مي د خلکو په لمسيانو زړه وسوزي. کيدای شي څوک مرسته وکړي...

نه، دا وبال ده. دوزخ ته به ځم... نو اوس چيرته جنت کي يم؟ زه خو اوس هم دوزخ کي يم... خدای مهربانه ده، و به مي بخښي.

د کټ له څنګه يي کوچنی مېز راکش کړ. د پټکي يو سر يي حلقه کړ، پر مېز ودريد او بل سر يي له چته په راځړيدلي پړي کي ټينګ کړ. درب شو او مېز ولويد.

سهار اذانونه وشول؛ خو د تير په څير ور خلاص نشو. لمر په راختو شو؛ خو بيا هم ور ترلی و. نږور څو ځلي ور وټکاوه. اخر يي چيغه کړه، ماشومانو هم چيغي کړې. ګاونډيانو په څه خوارۍ ور پرانيست. بوډا ځوړند و. شور شو، چيغي شوې. شاوخوا ټول خلک راټول شول. د غرمي څو کورونو خواړه راوليږل. د شپې هم خواړه راغلل. سهار چي چای ته کيناستل، احمد يي مور ته ويل:

موری!

بابا مي خوب کي وليده، زما لاس کي ډوډۍ وه. خوړله مي او بابا مي راته په خندا کتلي.

خور يي وويل :

موری!

ما هم خوب کي وليده. ډوډۍ مي خوړله. يو چا مي پر اوږه لاس کيښود، چي ور ومي کتل، بابا مي و. په خندا يي راته ويل: شکر چي ماړه مي وليدئ.

نعمان دوست

۱۴/۱۱ /۱۳۹۹



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي.  په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ  maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ